# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر نهمه | ۴۷۶یمه ګڼه


## ولسمشريزې ټاکنې؛
## د کمېسیون او ټاکنیزو ټیمونو غونډه بې پایلې وه، کړکېچ پر خپل ځای دی




۳

---

هېواد

۴ مخ

## شمالي کوريا

له جنوبي کوريا، جاپان او امريکا سره پوځي سيالي، د پرمختللو بالستيکي توغنديو او اټومي وسلو جوړېدل؛ د کوريا ډېر اقتصادي امکانات خوري او د دې هېواد د توليدي اقتصاد د پراختيا او پرمختيا مخه نيسي.



---

## د کرنې وزارت: افغانستان هر کال د طبي بوټو له درکه ۱۵۰ میلیونه ډالره عاید تر لاسه کوي



د کرنې وزارت چارواکو ويلي، افغانستان په کلني ډول د طبي بوټو په ځانګړي ډول اينجې له صادرولو څخه له ۱۵۰ ميليونو ډالرو څخه زيات عايد تر لاسه کوي.

د دغه وزارت وياند اکبر رستمي ويلي چې تېر کال په ټول هېواد کې ۱۷۸ زره مټريک ټنه طبي بوټي چې ډېره برخه يې اينجه وه، توليد شوي دي. د يادونې ده چې اينجه يو ډول وحشي طبي بوټی دی چې په طبابت کې په پراخه توګه ترې ګټه اخيستل کېږي.

دا بوټي چې د افغانستان مهم صادرات جوړوي، د ځينو ولايتونو او په ځانګړي ډول د غور، بادغيس او بدخشان په غرونو کې پيدا کېږي. رستمي دغه راز زياته کړې چې اوس د دغه بوټي د کرلو لپاره لېوالتيا ډېره شوې او د کرنې وزارت هم هڅه کوي چې له بزګرانو سره په دې برخه کې له نږدې کار وکړي، څو د دغه بوټي کرل زيات کړي.

---

### که ټاکنيزه لانجه نه حل کېږي، نو بله لاره څه ده؟

۲ مخ

### افغانستان؛ د ټرمپ سفر او د نهه پړاويزه سولې راتلونکی

۲ مخ

### د پانګونې لپاره شپږ اساسي قوانين

۳ مخ

---

## سرچينې: په دوحه کې د امريکايي او طالب پلاوو تر منځ د هوکړې د لاسليک پر نېټې خبرې روانې دي

سرچينې وايي چې طالبان او متحده ايالتونه د قطر په نوي پړاو خبرو کې د سولې هوکړه ليک د لاسليک کولو د نېټې پر مشخص کولو خبرې کوي.

په دوحه کې د سولې روانو مذاکراتو ته نږدې سرچينې وايي چې د طالبانو او امريکايي لوري تر منځ تر موافقې وړاندې، د تاوتريخوالي پر کمولو، د موافقتنامې د لاسليک کولو پر نېټې او د بنديانو پر تبادلې مذاکرات شوي دي.

ويل کېږي چې د طالبانو او متحده ايالتونو تر منځ به د سولې هوکړه ليک په راتلونکې اونۍ کې لاسليک شي، خو تر اوسه طالبانو او د متحده ايالتونو مذاکراتي پلاويو دغه موضوع په رسمي توګه تاييد او يا رد کړې نه ده.


طالبانو ته نږدې سرچينو ويلي، دوی هيله من دي چې د دې ډلې او متحده ايالتونو تر منځ به په نږدې راتلونکې کې د سولې موافقتنامه لاسليک شي.

دا په داسې حال کې ده چې ويل کېږي طالبانو او متحده ايالتونو پر يوه او بل د بريد نه کولو په تړاو موافقه کړې. د سولې عالي شورا وايي، د جګړې کمېدل او اوربند د طالبانو او متحده ايالتونو تر منځ د کېدونکې موافقې برخه دي، خو جګړه بايد د ټولو خواوو تر منځ ودرول شي.

د يادونې ده چې د طالبانو او متحده ايالتونو تر منځ د سولې مذاکراتو له پيلېدو سره هممهاله، د جرمني په برلېن ښار کې د بين الافغاني خبرو اترو د ناستې په تړاو هم هڅې چټکې شوې دي.

---

## امریکا په افغانستان او سیمه کې وضعیت ته په کتو خپل پوځي حضور پراخوي



۲ مخ

---

## ولسی جرگه: اگر همایون قیومی توضیحات قناعت بخش ندهد، به لوی څارنوالی معرفی می شود

کمیسیون مالی و بودجهٔ ولسی جرگه در نشست دیروز آن‌چه را که دست‌کاری‌های غیرقانونی در بودجه و دریافت هزینه‌های نامحدود سفرهای همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور بلند پایهٔ رئیس‌جمهور غنی گفته می‌شوند، به بحث گرفت. اعضای این کمیسیون، هشدار دادند که اگر آقای قیومی دربارهٔ این موارد توضیحات قناعت بخش ندهد، کمیسیون مالی و بودجهٔ مجلس او را به لوی څارنوالی معرفی خواهد کرد.

سرپرست وزارت مالیه، قرار است در نشست روز چهارشنبهٔ کمیسیون مالی و بودجهٔ این جرگه دربارهٔ این موارد توضیحات بدهد.

ظاهر سالنگی، عضو کمیسیون مالی و بودجهٔ ولسی جرگه در این باره گفت: «مایهٔ نگرانی ما است؛ در شرایطی که ما با مشکلات اقتصادی دست و پنجه نرم می کنیم، برای یک کسی چک سفید داده می‌شود».

محمد میرزا کتوازی، عضو دیگر این جرگه نیز اظهار داشت: «پول‌های گزافی که به مصرف رسیده‌است، به تمام مردم معلوم شود که به چه هدف مصرف شده‌است و بعداً آن چیزی که خلاف قانون باشد، یگانه گزینه‌یی که پارلمان دارد، مجبور وزیر مالیه را به څارنوالی معرفی کند». سندی که به رسانه ها رسیده اند، نشان می‌دهد که همایون قیومی در حدود پانزده روز پیش برای سفرهای بیرونی‌اش خواستار اجازهٔ همیشه‌گی با هزینهٔ نامحدود شده‌است و این درخواست نیز پذیرفته شده‌است.

دیده‌بان شفافیت افغانستان می‌گوید که پاسخ نه گفتن به عملکردهای «غیرقانونی» شفافیت را زیر پرسش خواهد برد.

محمد اکرام افضلی، رئیس این دیده‌بان گفت: «عدم پاسخ گویی ریاست‌جمهوری در مورد مصارف بیرون از بودجه خلاف قانون است و این نشان دهندهٔ این است که حکومت حاضر به شفافیت و پاسخ گویی به مردم نیست».

اما، ارگ ریاست‌جمهوری می‌گوید که حاضر است تا به این عملکردها پاسخ دهد.




دریــځ

## که ټاکنیزه لانجه نه حل کېږي، نو بله لاره څه ده؟

پرون د ټاکنیزې لانجې د حل لپاره جوړه شوې ستره او مهمه غونډه بې پایلې او په لانجې پای ته ورسېده. دغه غونډه د شاوخوا ۳۰۰ زرو لانجمنو رایو په اړه د ټاکنو کمېسیون له لوري جوړه شوې وه. په دې غونډه کې د ټاکنیزو ډلو او سیاسي ګوندونو استازو، د ټاکنو د څار بنسټونو استازو، د اروپايي ټولنې او جرمني د سفیرانو، د انګلستان سفارت مرستیال او ځینو نورو بهرنیو ډیپلوماتانو برخه اخیستې وه. په غونډه کې کمېسیون د دغو رایو د قانوني ګڼلو لپاره خپل دلایل وویل، خو د ثبات او همپالنې ټیم دا رایې باطلې، د قانون او کړنلارو خلاف وبللې. وروسته غونډه لانجمنه شوه او بې پایلې پای ته ورسېده.

د ټاکنیزې لانجې د حل په موخه دا تر ټولو ستره او مهمه غونډه وه، چې تمه وه یا به ټاکنیزه لانجه حل کړي او یا به ستونزې را کمې کړي. اوس ښکاري چې ټاکنیزه لانجه نه یوازې حل کېدونکې نه ده، بلکې لا پېچلې کېږي. اوس ښايي کمېسیون ته دوې لارې پاتې وي: لومړۍ دا چې ټول کاندیدان خپه کړي او یوازې دولت ساز ټیم خوشاله کړي، پایلې اعلان کړي او کیسه ختمه کړي. داسې ښکاري چې کمېسیون غواړي همداسې وکړي، خو ستونزه دا ده چې په دې سره د ټاکنو لانجه نه ختمېږي او ستونزې لا پسې زیاتېږي. دویمه لار دا ده چې د نورو ټاکنیزو ډلو او کاندیدانو غږ واوري او په خپله پرېکړه کې بدلون راولي. په لانجمنو ۳۰۰ زرو رایو کې چې کومې ستونزې دي، لامل یې خپله کمېسیون او د کمېسیون کمزوری مدیریت، فساد او ګډوډۍ دي، نو پکار ده چې خپله مسوولیت واخلي او دا لانجمنې رایې چې د قانون او طرزالعملونو خلاف دي، لغوه کړي او بیا پایلې اعلان کړي. په دې سره به ټاکنې دویم پړاو ته ځي او کمېسیون باید دویم پړاو ټاکنو ته سر له اوسه تیاری ونیسي.

خو که ټاکنیزه لانجه نه حل کېږي، نو یوه درېیمه لاره هم شته، چې دا لاره هم اسانه ده او هم د ستونزې له اساسي حل سره مرسته کولی شي. دا حللاره له سولې سره تړلې ده. د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې خبرې بیا پیل شوې دي. تمه ده چې دا خبرې به ژر وروستۍ شي او دواړه لوري به د سولې هوکړه لاسلیک کړي. د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې له هوکړې وروسته، د بین الافغاني خبرو اړتیا ده چې به پکې په راتلونکي نظام او د نظام پر څرنګوالي بحث کېږي. دغه راز له شک پرته یو موقت او یا انتقالي حکومت به هم د خبرو برخه وي چې راتلونکي نظام ته لاره هواره کړي. له دې امله چې په افغانستان کې ټاکنیزه لانجه ده او دا لانجه حل کېږي هم نه، نو ښه ده چې سر له اوسه پر یو داسې حکومت کار وشي چې د سولې په برخه کې مرسته وکړي. په دې سره به له یوه اړخه ټاکنیزه لانجه ختمه شي او له بله اړخه به مو له سولې سره مرسته کړې وي.



# افغانستان؛
## د ټرمپ سفر او د نهه پړاویزه سولې راتلونکی

لیکنه: د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د افغان سولې په اړه د امریکا او افغان طالبانو تر منځ نهه پړاویزه غونډې تر سره شوې. تردې چې دواړې خواوې یوې نسبي هوکړې ته هم نږدې شوې وې. مګر د امریکا متحده ایالاتو جمهور رییس ډونالډ ټرمپ د سولې تړون تېره سپټمبر میاشت په کابل کې د طالبانو له خوا د یو امریکايي تر وژل کېدو وروسته، سمدلاسه لغوه اعلان کړ او په دې سره د دواړو خواوو تر منځ د سولې په اړه خبرې اترې په ټپه ودرېدې. تر دې چې څو ورځې مخکې ولسمشر ټرمپ په ناڅاپي توګه افغانستان ته سفر وکړ او له طالبانو سره یې د نویو خبرو پیلېدو خبر هم ور کړ. موږ په همدې تحلیل کې د سولې پر راتلونکي او په بګرام فوځي اډه کې د ټرمپ د څرګندونو په اړه شننه کړې ده.

**افغان سولې خبرو اترو ته ځغلنده کتنه**

تر دې دمه د افغان طالبانو او امریکايي چارواکو تر منځ د افغان سولې په اړه خبرې اترې چې د متحده عربي اماراتو په ابوظبي ښار کې تر سره شوې او افغان چارواکو پکې هم ګډون درلود، د یاد ښار په ګډون، نهه غونډې د قطر هېواد په مرکز دوحه کې هم تر سره شوې دي.

دواړو خواوو د اوږدو خبرو اترو تر سره کېدو په شپږم پړاو کې د افغان سولې په اړه د پرمختګ خبر ور کړ. تر دې چې یادې خبرې اترې نهم پړاو ته ورسېدې او دواړې خواوې د یوې نسبي هوکړې تر سره کېدو ته هم نږدې شوې وې. په ورته وخت کې طالبانو په پلازمېنه کابل کې موټر بم چاودنه وکړه چې په ترځ کې یې د یو امریکايي په ګډون، ۱۲ کسان ووژل شول. تر یادې چاودنې وروسته، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د افغان سولې په اړه تر سره شوې خبرې اترې لغوه اعلان کړې. افغان دولت هم د سولې په اړه خبرې اترې او کوښښونه په دې پلمه ودرول چې له ټاکنو وروسته ګټونکې ډله کولی شي د سولې خبرې اترې پر مخ بوځي او په دې توګه تتې ټاکنې هم تر سره شوې چې پایلې یې تر اوسه لا معلومې نه دي. په ورته وخت کې طالبانو پاکستان او ایران ته سفرونه وکړل او د چین له لوري د افغان سولې په اړه د اکتوبر په ۲۹مه او ۳۰مه نېټه په کېدونکې غونډه کې یې د قطر د سیاسي دفتر مشر ملا برادر په مشرۍ د طالبانو د هیئت د ګډون په اړه هم خبر ور کړ. د چین په غونډه کې افغان دولت ته هم د ګډون بلنه ور کړل شوې وه، مګر د ګډونوالو د لېست او اجنډا په سر د اختلاف له امله یاده غونډه تر دې دمه تر سره نه شوه. د امریکا له خوا د افغان سولې په اړه د خبرو اترو تر لغوه کېدو وروسته روسیې، ایران، پاکستان او اروپايي ټولنې له دواړو خواوو څخه د خبرو بیا پیلېدو غوښتنه وکړه. طالبانو هم د تېرو غونډو پرېکړو او تر سره کېدونکې هوکړې ته د ژمنتیا په اړه څرګندونې وکړې او د خبرو اترو لغوه کېدل یې په خپله د امریکا لپاره زیان وګاڼه.

د افغان سولې په اړه د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد کابل ته سفر وکړ او د ولسمشر او اجرایه رییس په ګډون یې له مختلفو افغان مشرانو سره لیدنې کتنې هم وکړې. د خلیلزاد تر سفر وروسته، د طالبانو له خوا د دوو بهرنیانو چې یو د امریکا او بل د اسټرالیا هېواد اوسېدونکی و او له تېرو دریو کلونو راهیسې له طالبانو سره په زندان کې وو؛ د انس حقاني، مالي خان او عبدالرشید عمري چې د طالبانو اړوند کسان وو او بګرام زندان کې ساتل کېدل، د تبادلې په اړه هغه وخت خبرونه مخې ته راغلل چې افغان ولسمشر د انس حقاني په ګډون، د دوو تنو نورو طالب زندانیانو خوشې کولو په اړه ولس ته ځانګړې لنډه وینا وکړه. ولسمشر غني دا کار یوازې سولې ته د افغان ولس د نږدې کېدو په خاطر ګاڼه. دا هغه څه وو چې د سولې بندې شوې دروازې په پرانیستلو کې یې نیغ په نیغه مرسته وکړه، تر دې چې په تېره نومبر میاشت کې طالبانو د خپلو دریو زندانیانو د خوشې کېدو په بدله کې دوه بهرنیان چې په افغانستان-امریکايي پوهنتون کې استادان وو، خوشې کړل.

**د افغان سولې په اړه د نوي پړاو پیل**

د امریکا او طالبانو له خوا د بندیانو تبادله او خوشې کول د ډېرو هېوادونو له تود هرکلي سره مخ شول او د دواړو لوریو له خوا یې د دې کار تر سره کېدل وستایل. د زندانیانو تر تبادلې وروسته، ولسمشر ټرمپ لومړی له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره د ټلیفون له لارې خبرې وکړې او د زندانیانو د خوشې کېدو ګام اخیستو په پار یې ترې ځانګړې مننه وکړه. ورپسې یې د پاکستان له لومړي وزیر او قطري امیر شیخ تمیم بن حماد الثاني څخه د ټلیفون له لارې د زندانیانو په خوشې کولو او افغان سوله کې د مرستو په پار مننه وکړه. د زندانیانو له خوشې کېدو وروسته، د امریکا له خوا د افغان سولې په برخه کې ځانګړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد او د افغان طالبانو تر منځ په قطر کې د غیر رسمي ناستې په اړه هم پرمختګونه مخې ته راغلل او دا هغه څه وو چې د افغان سولې په اړه یې د خبرو اترو لړۍ بیا ځلې پیلولو په اړه هیلې لاپسې ډېرې کړې.

**بګرام فوځي اډې ته د ولسمشر ټرمپ ناڅاپي سفر**

د تېرې نومبر میاشتې په ۲۸مه نېټه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ بګرام ته چې په افغانستان کې د امریکايي فوځیانو تر ټولو ستره اډه بلل کېږي، ناڅاپي سفر وکړ. که څه هم د یاد سفر موخه په بګرام کې له امریکايي فوځیانو سره په ګډه د شکرانې مذهبي مراسمو لمانځل وو، مګر ښاغلي ټرمپ له افغان طالبانو سره د خبرو اترو د نوې لړۍ پیلولو په اړه هم څرګندونې وکړې. ولسمشر محمد اشرف غني هم د ټرمپ تر سفر وروسته بګرام هوايي او فوځي اډې ته ورغلی و او د امریکايي فوځیانو سرښندنو او قربانیو د یادونې تر څنګ یې په ننګرهار کې د داعش ډلې د ماتې او په راتلونکو دریو میاشتو کې له ټول افغانستان څخه د یادې ډلې چې د سیمې هېوادونه ورڅخه خطر احساسوي، د ختمېدو په اړه څرګندونې وکړې. د سولې خبرو اترو بیا پیلولو تر څنګ، د سیمې هېوادونو په ځانګړې توګه د افغانستان ګاونډي هېواد ایران په اړه د ټرمپ څرګندونې چې د یاد هېواد حاکم نظام یې فاسد او د تروریستي ډلو ملاتړی یاد کړ، د ځینو سیاسیونو په باور د اندېښنې وړ دي. د دې تر څنګ، ټرمپ په خپلو څرګندونو کې د بګرام هوايي اډه د خپلو ځواکونو لپاره یو لوجیستیکي مرکز یاد کړ او د خپلو نظامي وسلو او په ځانګړې توګه د هغو جګړییزو چورلکو چې له بګرام هوايي او نظامي اډې پورته کېږي، غبرونه یې د سیمې په سطحه د خپلو دښمنانو لپاره ځوروونکې وبلل. د سورېې په اړه یې هم څرګندونې وکړې او هلته یې د خپلو ځواکونو مېشته کېدلو علت بیا ځلې د افغانستان له ادرس څخه په ډاګه کړ، هغه دا چې امریکا غواړي تېل وژغوري او د کردانو او خپلو سیمه ییزو ډلو ملاتړ وکړي. که څه هم له یوې خوا دا څرګندونې د خپلو امریکايي فوځیانو مورال اوچتولو اړوندې بلل کېدی شي؛ خو په ورته وخت کې د افغانستان له ادرسه دغه ډول څرګندونې د سیمې هېوادونو هغه صادقانه مرستې او نیک ګامونه چې د افغان سولې راوستلو په برخه کې یې پلي کول غواړي، کولی شي له خنډ او ځنډ سره مخ کړي.

بلخوا د امریکا له خوا د افغان سولې نوې خبرې ښايي بیا ځلې د یوې پلمې ښکار شي، ځکه له یوې خوا ولسمشر ټرمپ د سولې خبرو پیلېدو خبر ور کوي، بلخوا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو کمول یې د ټکنالوژۍ په برخه کې د امریکا برلاسي وښوده، چې په کمو او لږو فوځیانو کولی شي د ټکنالوژۍ په مرسته خپل دښمن ته په افغانستان کې ماتې ورکړي او له افغانستان څخه یې د خپلو ټولو ځواکونو ویستلو په تړاو هیڅ ډول څرګندونې ونه کړې. د ځواکونو ویستل بیا هغه څه دي چې افغان طالبان یې بنسټیز شرط ګڼي. د دې تر څنګ، ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې د خپلو دښمنانو پر ضد د خپلو حملو یادونه هم وکړه، چې دښمن یې له پخوا ډېر ځپلی او حملې یې پرې زیاتې کړې دي. هغه خپل فوځیان د ځمکې، هوا او اوبو په سطحه پیاوړي او ځواکمن یاد کړل چې کولی شي دښمن ته په اسانۍ ماتې ور کړي چې دا بیا د سولې له خبرو سره په ښکاره په ټکر کې ښکاري. د سولې له نویو خبرو پیلولو سره د طالبانو له خوا اوربند او ډزبندۍ ته د یادې ډلې چمتووالی چې په وروستیو کې د افغان دولت له خوا هم له افغان طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د بنسټیز شرط په توګه ټاکل شوی، دا هم د ټرمپ د څرګندونو یوه برخه وه. دا په ډاګه کوي که په راتلونکي کې بیا ځلې د سولې خبرې اترې یو بنسټیز حالت ته ورسیږي او دا شرط مات شي، نو خبرې د خنډ او ځنډ ښکار کېدلی شي.

**پایله**

د افغان سولې لړۍ چې د امریکا او طالبانو تر منځ تر نهو پړاوونو وهلو او په ټپه ودرېدو وروسته بیا ځلې پیل شوې، دا ځل له یو داسې شرط (اوربند) سره مخ شوې چې لرې نه ده بیا ځلې له خنډ او ځنډ سره مخ شي. په همدې بنسټ امریکا او افغان دولت باید د افغان کشالې ختمېدو او سولې راوستلو لپاره ډزبندي د بنسټیز شرط په توګه مطرح نه کړي او هر څومره چې ژر کېږي، د افغان سولې هوکړه چې ټولو خواوو ته د منلو وړ وي او افغان وژنه پکې پای ته رسیږي، لاسلیک کړي چې په دې سره اوربند په خپله منځ ته راځي.

د سیمې په سطحه وروستۍ نانډرۍ او بې ثباتي او د هغو په اړه د ټرمپ څرګندونې به هغه څه وي، چې امریکايي ځواکونه به په افغانستان کې لا مېشته کېدو ته اړ کړي، څو د امریکا سیمه ییزې ګټې خوندي کړي.

د افغانستان له ادرسه د سیمې هېوادونو په اړه د ټرمپ څرګندونې به د سیمې هېوادونه کرار کېناستو ته پرې نږدي او دا کار کولی شي د افغان کشالې په لا اوږدولو کې مرسته وکړي. بلخوا په کور د ننه د افغان چارواکو او مشرانو د سولې په اړه نه همغږي او بې باوري د سولې پروسه له خنډ سره مخ کړي، افغان مشرانو ته پکار ده چې لومړی یاده بې باوري ختمه او د سولې راوستلو په برخه کې له هر ډول هڅو څخه دریغ ونه کړي. دواړه لوري طالبان او افغان حکومت دې ژر تر ژره د سولې راوستلو لپاره وهڅوي. هغه خنډونه او د بهرنیانو شرطونه چې د افغان سولې پر وړاندې پراته دي، د خپلو هڅو په پایله کې حل او له منځه یوسي او پرې نږدي چې افغان خاوره د نورو د ګټو او معاملو ډګر شي. که چېرته امریکا د خپل یو چارواکي وژل کېدو په پار د سولې خبرې لغوه کولی شي، افغان دولت او طالبان باید هم د افغان ولس قربانۍ او وینې تویېدلو بندولو لپاره د اوربند په څېر پر ټولو هغو اړخونو بنسټیز اتفاق وکړي، چې کولی شي د جګړې ټغر له افغان خاورې ټول او پر ځای یې د سولې ټغر خور کړي.

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## د کمېسیون او ټاکنیزو ټیمونو غونډه بې پایلې وه، کړکېچ پر خپل ځای دی



سره له دې چې د ټاکنو کمېسیون د ټاکنیزو ناندریو حل ته سترگې په لار و، خو له ټاکنیزو ټیمونو سره یې د تېرې ورځې غونډه بې پایلې پای ته ورسېده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون ورمه ورځ وویل چې له ټاکنیزو ټیمونو سره به خبرې کوي او هڅه به دا وي چې روان کړکېچ حل شي او د ولسمشریزو ټاکنو پایلې اعلان کړل شي. خو پرون دغه غونډه په جنجال او ناندریو پای ته ورسېده. کمېسیون ټینگار کاوه چې اقدامات او فعالیتونه یې قانوني دي او ټاکنیزې ډلې باید همکاري ورسره وکړي. خو ځینو ټاکنیزو ډلو تور لگاوه چې کمېسیون د ځانگړي ټیم تر فشار لاندې دی او مستقلانه پرېکړه نه شي کولی.

سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر کمزوري مدیریت، نه همغږۍ او داخلي اختلافاتو پراخې نیوکې کېږي، تازه دغه کمېسیون وغوښتل چې روان کړکېچ ختم کړي. کمېسیون یوه غونډه رابللې وه چې په هغه کې د ټاکنیزو ټیمونو استازو، ځینو بهرنیانو او رسنیو برخه اخیستې وه. غونډه د څلورو ساعتونو په شاوخوا کې اوږده شوه، خو د ثبات او همپالنې ټیم دغه غونډه تحریم کړه او په جنجال پای ته ورسېده.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د دوی فعالیتونه او کړنې ټولې قانوني اړخ لري او ټاکنیز کمېسیونونه یې باید ملاتړ او همکاري وکړي. د کمېسیون رییسې حوا علم نورستانۍ دغه غونډې ته د خبرو پر مهال وویل، دوی تل د کمېسیون کړنلارو او قوانینو ته ژمن دي، یوازې قانوني او بایومټریک رایې ورته باوري دي او د ټاکنیزو ټیمونو مسوولیت دی چې له دوی سره په شفافیت کې همکاري وکړي. نورستانۍ وویل: ((زه بیا هم ټینگار کوم چې یوازې بایومټریک شوې رایې راته ارزښت لري. موږ سمې او ناسمې رایې سره بېلوو، نو ټاکنیز ټیمونه دې همکاري راسره وکړي. په دې توگه به بایومټریک شوې او غیر بایومټریک رایې سره بېلې کړو)).

په دې معلوماتي ناسته کې د ټاکنو کمېسیون مسوولانو غوښتنه وکړه، چې په اوو ولایتونو کې دې دوی ته د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکړل شي. د ټاکنو کمېسیون مشره وایي، لا هم په اوو ولایتونو کې دوی ته اجازه نه ورکول کېږي چې د رایو بیاشمېرنه وکړي. کمېسیون یو ځل بیا ټینگار کړی چې دوی مستقل دي او د هېچا تر اغېز لاندې نه دي.

په دې غونډه کې د سیاسي احزابو، څارونکو ادارو او ټاکنیزو ټیمونو استازو د کمېسیون پر چارو سختې نیوکې وکړې. دوی وایي چې د ټاکنو کمېسیون استقلالیت تر پوښتنې لاندې راغلی او نه شي کولی نتایج په خپل وخت اعلان کړي. بلخوا د کمېسیون یو تن غړي حنیف دانشیار ومنله، چې په ځینو مواردو کې دوی د قوانینو او طرزالعملونو خلاف کار کړی او د یو لړ ستونزو له امله مجبور شوي چې ځینې کارونه تر سره کړي. خو د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم استازو نیوکه وکړه، چې کمېسیون ټاکنو ته نه؛ بلکې درغلیو ته مشروعیت ورکوي، دغه ټیم له کمېسیون سره کومې پایلې ته نه رسېږي، نو له همدې امله یې استازي پرېکړه کوي چې غونډه تحریم کړي. د دې ټاکنیزې ډلې دویم مرستیال اسدالله سعادتي وویل: ((تاسې خپله پرېکړه کړې ده. موږ دا غونډه پرېږدو. ستاسې لایحې یو څه وایي، قانون یو څه وایي، خو تاسې خپله پرېکړه په خپل زړه کوی)).

د مدني ټولنو او سیاسي گوندونو ځینو غړو چې په دغه غونډه کې یې گډون کړی و، ویلي چې کمېسیون باید ژر تر ژره لومړنۍ پایلې اعلان کړي. د دوی په خبره، ولس ته د رایو او ټاکنو په تړاو سلگونه اندېښنې پیدا شوې دي او د کمېسیون مسوولیت دی چې پایلې ژر تر ژره اعلان کړي.

په ورته وخت کې د ولسمشر غني په مشرۍ د حاکم ټیم استازي بیا په دې غونډه کې وویل، چې دوی د ټاکنو کمېسیون په چارو کې هېڅ راز مداخله نه ده کړې. د دغه ټیم د استازي په خبره، د کمېسیون غړي ټولو نوماندانو په گډه انتخاب کړي، نو ځکه هېڅوک ورباندې فشار نه شي راوستلی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسې بیا له ټولو ټاکنیزو ډلو وغوښتل چې له دوی سره همکاري وکړي او په خبره یې کمېسیون مستقل دی او د هېچا فشار ته به ارزښت ور نه کړي. تمه وه چې کمېسیون بریالی شي ټاکنیز بحران ختم کړي، خو پرونۍ غونډه هم د ولس د تمې خلاف بې پایلې پای ته ورسېده.

## ډنمارک: د سولې د احتمالي تړون په صورت کې، په افغانستان کې د خپلو پوځیانو په اړه پرېکړه کوو

په افغانستان کې د ډنمارک د سفارت مرستیالې ویلي، د هر هغه اقدام چې د سولې د ټینگښت او جگړې د ختمېدو لپاره وي، هرکلی کوي.



د ډنمارک د سفیر مرستیالې ریني تاوس هېنسن دغه څرگندونې تېره ورځ په کابل کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په تړاو جوړ شوي پروگرام ته کړې دي.

هغې زیاته کړې چې په افغانستان کې د دوی موخه سوله راوستل دي او دوی د هرې هغې ناستې چې د سولې د ټینگښت او د تاوتریخوالي د ختمېدو لپاره وي، هرکلی کوي.

نوموړې د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي چې د سولې د احتمالي هوکړې په اساس به په افغانستان کې دوی د خپلو سرتېرو په اړه پرېکړه کوي.

د هغې په خبره، په تېرو ۱۸ کلونو کې د ښځو په برخه کې ډېر کارونه شوي، خو لا هم ځینې عوامل شته چې د ښځو پر وړاندې خنډ دي او دوی ته مساوي حقوق نه ورکول کېږي.


هېنسن زیاته کړې، افغانستان د ښځو په برخه کې مهمې لاسته راوړنې لري چې د بېلگې په ډول یې په ملي شورا کې د ښځو زیاتوالی چې د اروپایي ټولنو په پرتله زیاتې دي، د ماشومانو د زېږېدو پر مهال د مور د مړینې کموالی، په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې پرمختگ او ښوونځیو ته د نجونو د تگ ډېروالي ته اشاره وکړه.

نوموړې ویلي، د بشري حقونو کمېسیون او همدارنکه د ملگرو ملتونو له سازمان سره په گډه کار کوي، څو د افغان ښځو پر وړاندې شته تاوتریخوالی کم او دوی ته مساوي حقونه ورکړل شي.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکایي او طالب پلاوو تر منځ د افغان سولې په تړاو په ټپه درېدلې خبرې بیا پیل شوې او تر ډېره یې تمرکز په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر کموالي دی.

## مارک ایسپر: امریکا په افغانستان او سیمه کې وضعیت ته په کتو خپل پوځي حضور پراخوي

په داسې حال کې چې امریکایي چارواکي وایي، له طالبانو سره د سولې تر هوکړې وروسته، له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي، خو د امریکا دفاع وزیر له تازه څرگندونو ښکاري چې هغوی په نږدې راتلونکي کې د سیمې د پرېښودو پلان نه لري.



د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر په واشنگټن کې د ریگن دفاعي فورم ته د خبرو پر مهال ویلي، متحده ایالتونه یوازې افغانستان نه، بلکې په ټوله سیمه کې وضعیت څاري او اړتیا ده چې د هند سمندر ته په څېرمه سیمو کې پوځي حضور پراخ کړي.

هغه ویلي: «زه یوازې افغانستان ته نه گورم، بلکې موږ په ټوله سیمه کې روان وضعیت څارو، موږ پر دې فکر کوو چې ایا له افغانستان څخه خپل ځواکونه بېرته کور ته راستانه کړو، که هغوی په سیمه کې پرېږدو، څو چې د نورو هېوادونو د نفوذ مخه ونیسو او خپلو متحدینو ته ډاډ ورکړو».

مارک ایسپر دغه راز ویلي، چین او روسیه په سیمه کې د خپل پوځي ځواک پر پیاوړي کېدو بوخت دي، څو د نورو هېوادونو پر اقتصادي او امنیتي پرېکړو د ویټو له حقه استفاده کوي.

نوموړي ویلي، متحده ایالتونه اړ دي څو ډاډ تر لاسه کړي چې په سیمه کې د احتمالي گواښونو د مخنیوي لپاره کاپي ځواک ولري، څو له نړیوال نظم څخه دفاع وکړي.

هغه دغه راز ویلي: «چین او روسیه د خپل ځواک پر پیاوړي کولو او عصري کولو بوخت دي، خو هغوی د نورو هېوادونو پر اقتصادي او امنیتي پرېکړو د ویټو له حقه استفاده کوي، امریکا اړتیا لري چې دا ډاډ تر لاسه کړي چې په سیمه کې کاپي ځواک لري، څو له نړیوال نظم څخه دفاع وکړي او د ایران د ناوړه چلند مخه ونیسي».

په ورته وخت کې شنونکي وایي، امریکا په سیمه کې اوږدمهاله گټې لري او که له افغانستانه خپل ځواکونه هم وباسي، اجازه نه ورکوي چې نور هېوادونه دلته نفوذ وکړي او د دوی گټې وگواښي. متحده ایالتونه داسې مهال په سیمه کې پر خپل پوځي حضور ټینگار کوي، چې له دې وړاندې چین او روسیې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو پر وتلو ټینگار کړی و.

## راپورونه: د هند په پلازمېنه نوي ډیلي کې د سختې اورلگېدنې له کبله ۴۳ کسان وژل شوي دي



د راپورونو له مخې، د هند په پلازمېنه نوي ډیلي کې په یوه فابریکه کې د سختې اورلگېدنې له امله ۴۳ تنه مړه شوي دي.

چارواکو ویلي چې دغه اورلگېدنه په «انجاماندي» سیمه کې په یو لوی مارکېټ کې رامنځ ته شوې ده.

«ټایمز اف انډیا» خبري آژانس د هندي چارواکو په حواله ویلي، چې د یادې فابریکې ۵۰ نور کار کوونکي د اور وژونکو او نورو ژغورونکو ډلو له لوري ژغورل شوي دي.

چارواکو دغه راز ویلي چې ډېر کسان د اورلگېدنې له امله له رامنځ ته شوي دود څخه اغېزمن شوي وو، چې د درملنې لپاره روغتونونو ته لېږدول شوي دي.

د سیمه ییزو چارواکو په خبره، د اور د وژنې او خلکو د ژغورلو لپاره ۱٦ ژغورونکې ډلې او اور وژونکي ټیمونه سیمې ته رسېدلي دي.

په ورته وخت کې د هند د کورنیو چارو وزیر امیت شاه پر خپل ټویټر ټولو اړوندو ادارو ته لارښوونه کړې، چې د خلکو د ژغورلو لپاره له ټولو امکاناتو کار واخلي.

د دغه هېواد د اور وژونکې ډلې مرستیال سونیل چوهدري رسنیو ته ویلي، چې د اورلگېدنې د رامنځ ته کېدو پر مهال د فابریکې کار کوونکي ویده وو.

د چارواکو په خبره، په دغه فابریکه کې د ښوونځي بستې، بوتلونه او نور پلاستیکي توکي ساتل کېدل.

که څه هم تر دې مهاله د رامنځ ته شوې اورلگېدنې لامل نه دی معلوم، خو هندي چارواکو رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې په دې اړه څېړنې کوي.

چارواکو دغه راز ویلي چې دغه فابریکه د ښار د یوه لوی مارکېټ تر څنگ موقعیت لري او تنگو لارو د اور وژونکو ډلو کار سخت کړی چې له همدې کبله د مرگ ژوبلې شمېرې هم لوړې شوې دي.

په ورته وخت کې د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي ویلي، اور ډاروونکی و او چارواکو د تراژیدي په سیمه کې ټولې لازمې مرستې برابرې کړې دي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم په هند کې په لویو مارکېټونو او ودانیو کې د اورلگېدنې له کبله ډېرو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې تر ډېره یې چارواکو پړه د دغو ودانیو او مارکېټونو پر خاوندانو اچولې، چې د دوی په خبره، په دغو ودانیو کې یې معیارونه په پام کې نه دي نیولي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

## نهم څپرکی

### په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل




له پاکستان او نړیوالو جهادیانو سره د اړیکو لپاره په لویه پکتیا کې د حقاني شبکې نوم ډېر بد دی. په ځدراڼ قوم کې یې تر ټولو سرسخت مخالف پاچاخان ځدراڼ دی، هغه په ۲۰۱۱ز کال وویل: ((طالبان د خپلو فکرونو او نظرونو مالکین نه وو. د هغوی ټول فعالیتونه د نورو له لوري رهبري کېږي.)) پاچاخان وایي چې حقاني ته یې د طالبانو په اړه په ۱۹۹۵ز کال یو پیغام لېږلی و: ((دا خلک (طالبان) د افغانستان د رهبرۍ نه دي، ښایي زموږ هېواد ته یو سیمه ییز گواښ جوړ کړي. بریا یې ځکه ناشونې ده چې نن ورځ ټوله نړۍ پر یوه لور روانه خو طالبان بل لور روان دي.)) د لویې پکتیا یو بل مشر ناظم ځدراڼ وایي، د گمن خپلو قوم د اړیکو پر بنسټ ډېرو خلکو له مرکزي حکومت سره اړیکې پرېښودې. ناظم چې خپله هم په خوست کې د سولې ولایتي کمېټې غړی و وویل، د حقاني د اکا زوی، میاکي خان هم د سولې ولایتي کمېټې غړیتوب پرېښود.

پر دواړو، پاچاخان ځدراڼ او ناظم ځدراڼ په وار وار د ځانمرگو بریدونو په شمول ډول ډول بریدونه شوي وو. د هغوی د کورنیو ډېری غړي هم د نامعلومو کسانو له لوري وژل شوي وو. دواړه پر حقاني شبکه او د هغوی پر ملاتړي پاکستان د ورته بریدونو تورونه لگوي. له دې سیمې څخه په افغان پارلمان کې یوه استازي لیکلي وو، چې د حقاني شبکې ډېری ملاتړ د ایډیولوژیک تړاو پر بنسټ کېږي. د نوموړي پر وینا چې قومي اړیکې دومره رول نه لري، بلکې ټوله خبره د ایډیولوژۍ ده. قومونه ټول پر حقاني تور لگوي چې نوموړي د پاکستان پر اشاره خپلې سیمې نا ارامه کړې دي. ځایي خلک ان د نړیوالو ځواکونو د تحریک پړه هم پر حقاني اچوي.

پر وړه کچه د طالبانو له ډلې، حقاني شبکې له منصوریانو سره سیالي لرله. د منصوریانو کورنۍ له مولوي نصرالله منصور سره تړاو لري، هغه یو دېوبندي عالم و او د افغانستان د حرکت انقلاب اسلامي مشر و. هغه په ۱۹۹۳ز کال د سړک غاړې په چاودنه کې ووژل شو. ورور یې عبدالطیف منصور د دې کورنۍ مشر شو، د پکتیا د زرمت ستراتیژیکه ولسوالي یې هم په لاس کې وه. دې کورنۍ په ۱۹۹۵ز کال په کندهار کې له طالبانو سره اړیکه ونیوه. عبدالطیف منصور د طالبانو په حکومت کې د کرنې وزیر شو. له کندهار پرته د زرمت په ولسوالۍ کې د طالبانو نفوذ خورا زیات و او دا ځای د هغوی لپاره د ډېر ارزښت وړ و. د طالبانو د رژیم یو شمېر وزیران او معینان د همدې سیمې و.

د نصرالله منصور مشر زوی، صفي الرحمن منصور د کابل په قرغه کې د طالبانو د څلورمې نظامي لېوا مرستیال مقرر شوی و. په ۲۰۰۲ز کال یې د څه باندې (۱۰۰۰) جنگیالیو مشري پر غاړه وه چې پکې عرب، چیچنیایان او د مرکزي اسیا سرتېري هم وو. هغوی د زرمت ولسوالۍ د شاهي کوټ درې په غرونو کې په جگړه بوخت وو. د یوې امریکایي هلیکوپټرې راښکته کولو او اوو امریکایي ځواکونو په وژلو سره یې صفي الرحمن د طالبانو په منځ کې اتل معرفي کړ. د حقانیانو په څېر منصوریان هم لویې پکتیا ته په ۲۰۰۵ز کال راستانه شول. په راتلونکو کلونو کې د منصوریانو ډلې د زرمت ولسوالي لاندې کړه، په لوگر او غزني ولایتونو کې به یې هم فعالیت کاوه. د منصوریانو ډلې مشرانو هم خپل ډېری عملیات له پاکستانه رهبري کول. دې ډلو خپل ځانونه بډایه کړل خو د قومونو پر یووالي کې پاتې راغلي وو.

**د قومونو د برخلیک بدلون**

د لویې پکتیا په هېیو، کورونو او جرگو کې تل په دې سیمه کې د روانو ناخوالو په اړه بحثونه کېږي. د دې سیمې اوسېدونکي تل د عبدالله خان ځدراڼ کیسې کوي. کیسه داسې ده چې عبدالله خان ځدراڼ د ۱۹۷۳ز کال په دوبي کې کابل ته له سردار محمد داوود خان سره د بیعت لپاره تللی و. افغانانو د داوود خان د پرمختگ پلانونه او هیلې ستایل. ټولو د نوي پیل لپاره هیلې لرلې. له داوود خان سره کتنه کې هغه له عبدالله خان ځدراڼ پوښتلي وو: ((عبدالله خانه ښنگه راغلی یې، څه ویل لرې؟)) د دې قومي مخور په سترگو کې وېره له ورایه ښکارېده او ځواب یې ورکړ: ((افغانستان د هغه سنگر په څېر و چې هېڅ پرې برید نشو کوی. تاسو چې څه وکړل هغه د دې سنگر د دروازې ماتول وو. اوس به هر څوک ستاسې دا کړنه تکراروي. دا ملت به بیا هېڅکله پر خپلو پښو ونه درېږي.)) د هغه اندېښنه پر ځای وه. د لسیزو سیاسي کړکېچ په ترځ کې افغانانو خورا ډېرې قربانۍ ورکړې دي.

د ۲۰۰۱ز کال په ژمي کله چې د طالبانو حکومت ړنگ شو، لویې پکتیا قومونه له نوي سیاسي سېستم سره ژوند کولو ته چمتو وو. طالبانو ته په دې سیمه کې بهرنیو ځواکونو، جنگسالارانو او جهادي قوماندانانو ماته ورنه کړه، بلکې عامو خلکو هغوی مات کړل. یوه ورځ وروسته له هغې چې کابل د شمالي ټلوالې لاس ته ولوېد، په لوگر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو کې قدرت ځایي شوراگانو په لاس کې واخیست. شوراگانو ځایي امنیت اربکیانو ته وسپاره. بهرنیانو فکر کاوه چې طالبانو د ټولو پښتنو استازیتوب کاوه، خو له دې کار سره جوته شوه چې دا خبره سمه نه وه. امریکایي الوتکو د طالبانو له ماتې او د القاعدې له تېښتې ډېرې ورځې وروسته پر دې سیمه بمبارۍ پیل کړې. **دوام لري...**

# شمالي کوریا

◀ حشمت الله نوري

شمالي کوریا د لرې ختیځ هېوادونو په ډله کې د آسیا په ختیځ کې د جاپان د سیند په لوېدیځه څنډه او د کوریا د خلیج په ختیځه خوا کې، د شمالي عرض البلدونو د ۳۸ او ۴۴ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۲۴ او ۱۳۱ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۴۶۳۶۱ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۹۳یم لوی هېواد بلل کېږي.

د شمالي کوریا شمال ته د چین ولسي جمهوریت، جنوب ته جنوبي کوریا، ختیځ ته د جاپان سیند او لوېدیځ ته یې ژړ سیند موقعیت لري.

دغه هېواد د خپل ځانگړي جغرافیایي موقعیت له امله، په عمومي توگه لنده هوا لري، خو د هېواد د شمالي سیمو هوا یې وچه او معتدله ده.

شمالي کوریا یو غرنی هېواد دی چې غرونه یې په ټولو برخو کې خواره واره پراته دي. د دغه هېواد هوارې ځمکې په ختیځو او لوېدیځو ساحلي برخو کې موقعیت لري. د شمالي کوریا په ختیځ کې د جاپان په سیند کې دوه کوچني ټاپوگان او د دغه هېواد په لوېدیځ کې په ژړ سیند کې څو کوچني ټاپوگان په دغه هېواد پورې اړه لري.

د دغه هېواد پلازمېنه د پیونگ پیانگ ښار دی او ټولټال څه باندې ۲۵ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۹۰ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ٦٥ سلنه خلک په ښارونو او پاتې ۳۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

ناسونسي، او پیونگ یانک، چورون ساري ون، هاونک جو ونسان او همامهونک د شمالي کوریا مهم ښارونه دي.

د شمالي کوریا دولت په مارکسېزم کې د کیم ال سونک د افکارو پر بنسټ جوړ شوی دی. کیم ال سونک د شمالي کوریا او د دغه هېواد د کمونیست گوند لومړنی جوړوونکی و. اوس اوس د کوریا د کارگرانو د گوند کمېټه د دغه هېواد د تصمیم نیولو تر ټولو لوړ او ځواکمن ارگان دی، چې پرېکړې یې په هره برخه کې ضروري بلل کیږي. د کوریا اساسي قانون په ۱۹۴۸ ز کال کې نافذ شوی دی. په دغه قانون کې د ۱۹۷۲ ز کال په ډسمبر کې، د ۱۹۹۲ ز کال په اپریل او د ۱۹۹۸ ز کال په سپټمبر کې نوې کتنې شوې دي. د دغه هېواد اوسنی مشر او د ملي دفاع د کمېټې رییس کیم جونگ اون دی. د شمالي کوریا لومړی وزیر او د کابینې وزیران د خلکو د وسله وال پوځ له وزیر څخه پرته، د خلکو د ملي شورا له خوا ټاکل کیږي.

د دغه هېواد اوسنی مشر کیم جونگ اون د ۲۰۱۰ ز کال تر نیمایي پورې د دغه هېواد د ملي دفاع د کمېټې د مشر او وسله وال پوځ قوماندان او د کارگرانو د گوند د مرکزي کمېټې مشر و؛ خو د اکتوبر په میاشت کې یې د ملي دفاع د کمېټې او وسله وال پوځ مشري خپل ځوان زوی ته وسپاره. دا په دې مانا وه چې دا ځوان به د شمالي کوریا راتلونکی مشر وي.

د کوریا د خلکو ملي شورا ٦٨٧ غړي لري چې د پنځو کلونو لپاره د خلکو په رایه ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۷ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي. د کوریا د خلکو د ملي شورا ډېر غړي د دغه هېواد د کارگرانو د گوند غړي دي او لږ کسان د دغه هېواد د لږکیو استازیتوب کوي. دا شورا ډېر پراخ واکونه لري او د هېواد ټول مهم ملکي او پوځي چارواکي ټاکي. دا شورا د هېواد د اساسي قانون لوایح، کورنۍ او بهرنۍ تگلارې جوړوي او د هېواد بودجه تصویبوي. دغه شورا چې په کال کې یو ځل غونډه کوي، په ټول هېواد کې ځانگې لري.

د شمالي کوریا حقوقي نظام د المان پر مدني قانون او د جاپاني ټولنې پر اساساتو، سوسیالیستي اصولو او د کیم ایل سونک پر مفکوره ولاړ دی. د دغه هېواد قضایي ارگان مرکزي محکمه ده چې قاضیان یې د خلکو د ملي شورا له خوا ټاکل کیږي.

دغه هېواد د ۱۹۴۵ ز کال د اگست په ۱۵مه له جاپان څخه خپلواکي اخیستې او اوس هر کال د سپټمبر دویمه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

شمالي کوریا په ټوله نړۍ کې د مرکزي پلان جوړونې ډېر مضبوط اقتصادي نظام لري. دغه نظام د سوسیالیستي اقتصاد د کوریا د ملي گټو او د دغه هېواد د پخواني مشر کیم ال سونگ د ځاني بسیا د زده کړو له مخې جوړ شوی او ډېر په شدت تطبیق کیږي. په شمالي کوریا کې ټول اقتصادي بنسټیز سکټورونه، کانونه، صنعت، ټرانسپورټ، بندرونه، مخابرات او کرنیزې ځمکې د ټولو خلکو مالکیت گڼل کیږي. نږدې ټول استهلاکي او غیر استهلاکي صنعتي تولیدات دولتي فابریکې تولیدوي. درندو او پوځي صنایعو د هېواد د استهلاکي او نورو سپکو صنایعو د وروسته پاتې والي په بیه کې مهم رول لوبولی دی. د ازاد مارکیټ گډون کوونکو له ۱۹۹۵ ز کال څخه راپدېخوا د خوراکي موادو او نورو استهلاکي شیانو په وېش کې ورځ په ورځ زیاتېدونکی ارزښت پیدا کړی دی. په دغه هېواد کې د خصوصي سکټور تولیدات اوس هم د گوتو په شمار دي. د شمالي کوریا اقتصادي عمومي تولیدات له ۱۹۹۱ ز کال څخه راپدېخوا تر اوسه په منظمه توگه تقریباً نیمایي ته کم شوي دي؛ ځکه چې له یوې خوا انرژي تولیدوونکي مواد کم دي او له بلې خوا صنعتي تاسیسات زاړه شوي دي. همدا راز د همدې تاسیساتو لازمه ساتنه او څارنه نه ده شوې او نه هم پرې نوې پانگونه شوې ده.


په هر صورت، ډېره موده کیږي چې شمالي کوریا د خپلو خوراکي موادو کورنۍ اړتیاوې په وارداتو پوره کوي. اوس اوس دا هېواد د کرنیزو ځمکو د محدودیت د زراعتي فصل د مودې د لنډوالي او د کیمیاوي سرې د کمبود له ستونزو سره مخ دی. دې ستونزو د حبوباتو تولید یو میلیون ټنه کم کړی، چې اوس د دغه هېواد د خوراکي موادو حد اقل اړتیا نه شي پوره کولی.

له ۲۰۰۲ ز کال وروسته شمالي کوریا په خپلو پولو کې د څلورو ازادو سوداگریزو سیمو د جوړېدو پرېکړه وکړه او هماغه وو چې گاونډیو هېوادونو او نړیوالو پانگوالو ورته زړه ښه کړ. له جنوبي کوریا، جاپان او امریکا سره پوځي سیالي، د پرمختللو بالستیکي توغندیو او اټومي وسلو جوړېدل؛ د کوریا ډېر اقتصادي امکانات خوري او د دې هېواد د تولیدي اقتصاد د پراختیا او پرمختیا مخه نیسي.

تېل، اوسپنه، ډبرې، د ډبرو سکاره، قیمتي فلزات، سرب، مس، جست، کیمیاوي توکي، ټوکران، خوراکي توکي، پوځي وسایل، الوتکې، اټومي نقلیه وسایط، کاغذ، سیمنټ، ببرۍ، لرگین شیان او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د دغه هېواد ۲۳ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده او پاتې نوره هغه یې ځنگلونو، غرونو، بیدیاوو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۳۷ سلنه خلک د کرې په سکټور کې پر کار بوخت او د هېواد ۳۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

پنبه، تنباکو، وریجې، جوار، حبوبات، کچالو، وربشې، غنم، غوښه، لبنیات، هگۍ، میوې او سابه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.



د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان چین، برازیل، لبنان او هالنډ دي. دغه هېواد تر ۲۰۰ زیاتې تجارتي بېړۍ لري، ۸۰ هوایي ډگرونه لري چې ۳۸ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د کوریا د ټلیفون کود ۰۰۸۵۰ او د انټرنېټ کود یې KP دی.

په شمالي کوریا کې د کوریا د کارگرانو گوند د خپرونو مرکزي دفتر اداره کوي. په دغه هېواد کې خصوصي رسنۍ نشته او یوازې څلور دولتي ټلوېزیونونه او کوریا غږ راډیو لري.

دغه هېواد د سړې سرکلني عاید له پلوه، د آسیا او نړۍ له بېوزلو هېوادونو څخه شمېرل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.

کوریا ډېر لرغونی تاریخ لري، له میلاد څخه ۱۹۴ کاله مخکې د ویمن په نامه له چین څخه یوه تښتېدلي واکمن په کوریا کې ټول واک تر لاسه کړ. لنډه موده وروسته په چین کې د هان امپراطور د ویمن پر سیمه ور ودانگل او ټوله کوریا یې د چین په خاوره پورې وتړله. چینایانو کوریا له میلاد څخه ۱۰۸ کاله مخکې په څلورو بېلابېلو برخو ووېشله.

د چین او جاپان په لومړۍ جگړه له ۱۸۹۲ تر ۱۸۹۵ ز کاله او د روسیې او جاپان له ۱۹۰۰ تر ۱۹۰۵ ز کاله پورې په جگړه کې د جاپان تر بریالیتوب وروسته، کوریا د جاپان لاس ته ورغله. که څه هم چې جاپانیانو د کوریا له اقتصادي پرمختگ سره مرسته وکړه، خو د کوریا د خلکو د خپلواکۍ غوښتونکي پاڅونونه غلي نه شول. د ۱۹۱۹ ز کال په مارچ کې نږدې دوو میلیونو کوریایانو د سیول په ښار کې د خپلې خپلواکۍ اخیستو لپاره غونډه وکړه. جاپانیانو پر دې ستره غونډه گولۍ و اورولې او د کوریا د خپلواکۍ غوښتونکي بهیر مشرانو د چین د شانگهای په ښار کې له خپلواکې کوریا جلاوطنه موقتي حکومت جوړ کړ. په دویمه نړیواله جگړه کې د امریکا، چین او انگلستان دولتونو د کوریا خلکو ته د بشپړې خپلواکۍ وعده ورکړه. له همدې امله د کوریا د خپلواکۍ پلویانو د جاپان پر ضد جگړه کې برخه واخیسته. کله چې په جگړه کې جاپانیانو ماتې وخوړه، د ۱۹۴۵ ز کال د فبروري او جون په میاشتو کې د یالتا او پتسدام په نړیوالو کنفرانسونو کې پرېکړه وشوه، چې سملاسي دې کوریا پر دوو شمالي او جنوبي برخو ووېشل شي. په شمالي کوریا کې چې روسي پوځونه پراته وو، کمونیستانو واک تر لاسه کړ او په جنوبي کوریا کې چې د امریکایي پوځونو تر لاس لاندې وه، د هغوی واک او اداره وه.

افغانستان په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د خپل ناپېیلي فعال بهرني سیاست له مخې، دواړې کوریاوې په رسمیت وپېژندلې او په کابل کې د دواړو هېوادونو سفارتونه پرانیستل شول. د ثور له کودتا وروسته، افغانستان له جنوبي کوریا څخه خپله پېژندنه بېرته واخیسته. د شمالي کوریا دولت یې د کوریا د ټاپووزمې یوازینی قانوني دولت وباله او په کابل کې یې د جنوبي کوریا سفارت بند کړ. د حامد کرزي په مشرۍ د نوي دولت له جوړېدو وروسته، شمالي کوریا د تبریکۍ څو پیغامونه کابل ته استولي، خو د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو بیا ټینگېدو ته هېڅ لېوالتیا نه ده ښودل شوې.

له افغانستان څخه تر شمالي کوریا پورې د هوا له لارې فاصله ۵۲٦۰ کیلومتره او د کابل او پینگ یانگ ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۴:۳۰ ساعته دی.

همیانۍ

# د پانګونې لپاره شپږ اساسي قوانین

حمیدالله حمیدي

**لومړی اساسي قانون: له هغو عوایدو سره ځان بلد کړئ چې کار ورته کوی.**
ډېری کسان یوازې په دې اړه فکر کوي، چې څه څنګه پیسې پیدا کړي. دوی پر دې نه پوهېږي چې د پیسو ګټل بېلابېلې بڼې لري، څو کار ورته وشي. د کلونو په اوږدو کې زه او مایک پر دې وپوهېدو چې عواید په درې ډوله دي.
- له دندې څخه تر لاسه شوي عواید: دا هغه پیسې دي چې په میاشتني ډول یې د منظم کار په پایله کې تر لاسه کوی. په دې ډول عوایدو ډېره مالیه هم راځي، نو ډېره سخته ده چې وکولای شی له دې لارې شتمن شی.
- له پانګې څخه د تر لاسه شوې ګټې عواید: دغه ډول ډېره ګټه کله د قېمت لرونکو پاڼو (چک)، ونډې او یا هم ګډو صندقونو په شکل راځي.
- له جایدادونو څخه تر لاسه شوي عواید: دغه ډول عواید د پخوانیو جایدادونو او نورو توکو د پلور په پایله کې تر لاسه کېږي. پر دې پیسو باندې ډېره لږه مالیه راځي، خو ګټه یې بیا ډېره وي. د شتمنۍ لپاره دا تر ټولو ښه او اسانه لار ده. شتمن پلار به مې ویل، که غواړې شتمن شې، نو له شتمنۍ څخه پر لاسته راتلونکو عوایدو باندې تمرکز وکړه.
**دویم اساسي قانون: معمولي عواید مو له شتمنۍ څخه پر لاسته راغلو عوایدو بدل کړئ**
ډېری کسان خپل ژوند پر معمولي عوایدو باندې پیلوي لکه یو کار کوونکی. د عواید درک او له شتمنۍ څخه پر راغلو عواید باندې د معمولي عوایدو بدلون، شتمنۍ ته غځېدلې لار ده. داسې چې د امکان تر بریده ګټوره وي.
**درېیم اساسي قانون: پانګوال یا شتمن وي یا پوروړي**
لکه څه ډول مو چې مخکې وویل، ډېری خلک فکر کوي، چې پانګونه یو له خطره ډک کار دی. خو په اصل کې دا خپله پانګوال دی چې خطرناک وي. پانګوال یا شتمن وي او یا هم پوروړی.
**څلورم اساسي قانون: تیار اوسئ**
ډېری کسان هڅه کوي چې د وخت او پېښې وړاندوینه وکړي. خو یو رښتینی او اصلي پانګوال په هر ډول شرایطو کې خپل کار ته دوام ورکوي. پلار به مې ویل: «که په اضافه زده کړو، تجربې او یا هم پیسو باندې نه وې سمبال شوی، نو ښه فرصتونه هم له لاسه ورکولای شې».



شتمن پلار به مې ویل، مهمه دا نه ده چې ته د پېښو وړاندوینه وکړای شې، بلکې مهمه دا ده چې پر هغه څه تمرکز وکړې چې غواړې یې. د کېدونکو پېښو په اړه دې حواس راټول کړه او له فرصت څخه ګټه واخله. دغه کار هغه وخت کولای شې چې مالي پوهه ولرې.
**پنځم اساسي قانون: ښې معاملې له ګټو ډکې وي**
د یوه نوي او تازه کار پانګوال په توګه زما اندېښنه دا ده چې له یوې معاملې سره د مخکېدو پر وخت څه ډول خپله پانګه ډېره کړم. شتمن پلار به مې ویل، دنده مې باید دا وي چې اصلي تمرکز باید پر مخکې پرتو فرصتونو باندې وکړم، څو ښه ورته اماده او تیار وم.
مطلب یې دا و چې بیا د پیسو ګټل اسانه دي، اصلي خبره د فرصت پیدا کول او له فرصت څخه سمه ګټه اخیستل دي، داسې چې پیسې جوړوونکې وي. همدې لامل ته په کتو، خلک ډېر په دې هڅه کې وي چې خپلې پیسې یوه ښه پانګوال ته ورکړي.
شپږم اساسي قانون: کله چې یو ښه پانګوال شوی، د ګټې او زیان ارزولو ځرنګوالی زده کړئ
شتمن پلار مې یو مثال ورکړ ویل یې، فرض کړه یو خپلوان دې د برګرو خرڅولو هټۍ جوړوي.
«که دې وراره وغواړي چې د برګر جوړولو او خرڅولو دوکان جوړ کړي او ۲۵۰۰ ډالرو ته اړتیا ولري. ستا په اند پانګونه یې ښه ده، پیسې ورکوې؟»
ځواب مې ورکړ: «نه! د دې لږې ګټې لپاره دومره پیسې ورکول لوی خطر (ریسک) دی.»
ډېر ښه: «که اوس و وایم چې دې کس پنځلس کاله د ځنځیري مغازو لپاره کار کړی دی او په خپله دنده کې ښه بریالی هم و. اوس غواړي خپل کارو بار پیل کړي او خپلواک اوسي، د ځان لپاره یوه ځنځیري مغازه پرانیزي، نو څنګه حاضر یې ۲۵۰۰ ډالر ورکړې؟»
ځواب مې ورکړ: «هو؛ ځکه دا کار ما ته ډېره ګټه رسوي.»
د پانګونې پر قوانینو باندې مسلط کېدل او په دې برخه کې د زده کړو لټه ډېر وخت ته اړتیا لري. خو دغه اصول تاسو ته دا در زده کوي، چې څه ډول کارو بار پیل کړی. دا چې تر کومه ځایه پورې رسېدلی شی، په تاسو پورې اړه لري.

## ارګ: د سولې خبرو د پیل لپاره له امریکا سره د تاوتریخوالي پر کمېدو او اوربند هوکړه شوې


ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، د افغان حکومت او امریکا تر منځ په خبرو کې دا هوکړه شوې چې کله د سولې خبرې پیلېږي، تاوتریخوالی به کمېږي او پایله به یې اوربند وي.
د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند مرستیال دواخان مینه پال ازادي راډیو ته ویلي چې د امریکا او افغانستان د ولسمشرانو تر منځ په مکررو خبرو کې دا تفاهم هم شوی، چې له افغانستانه د باندې به د تروریستانو پر پټنځایونو تمرکز کېږي.
مینه پال په دوحه کې د امریکا او طالبانو د سیاسي استازو تر منځ د خبرو د پیل په اړه په غبرګون کې ویلي: «افغانستان او امریکا ګډې ګټې او اهداف لري، موږ د سولې په اړوند په ګډه کار کړی او ګډ دریځ لرو، پر دې توافق شوی چې کله د سولې مذاکرې پیل شوې، تاوتریخوالی به کمېږي او پایله به یې اوربند وي».
هغه دغه راز ویلي چې د کابل او واشنګټن تر منځ دا توافق شوی چې تر دې وروسته چې هر اقدام کېږي، هغه به د افغان حکومت او امریکا تر منځ د همغږۍ له مخې کېږي.
د ولسمشرۍ ماڼۍ دا څرګندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان حکومت له ګډون پرته، امریکایي او طالب پلاوو د افغان سولې په تړاو نهه پړاوه خبرې وکړې چې وروسته په کابل کې د طالبانو په یوه ځانمرګي برید کې د دوو بهرنیانو په ګډون، د لسو افغانانو تر وژل کېدو وروسته د ولسمشر ټرمپ له خوا لغوه شوې.



تازه یوځل بیا امریکایي او طالب پلاوو اعلان کړی چې ځنډېدلې خبرې یې یوځل بیا پیل کړې دي.
فرانس پرېس او رویټرز خبري اژانسونو د امریکایي چارواکو په حواله ویلي چې په دوحه کې د خبرو تمرکز به د تاوتریخوالي پر کمولو، د بین الافغاني خبرو پر پیل او د اوربند پر ټینګېدو وي.
په ورته وخت کې د وسله والوطالبانو یوه ویاند سهیل شاهین په دې اړه پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «خبرې له هغه ځایه پیل شوې چې درېدلې وې، خبرې به د یوې موافقې پر لاسلیک او اړوندو مسئلو را څرخي».
دغه راز د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند مرستیال دواخان مینه پال ازادي راډیو ته ویلي، طالبانو او امریکایي لوري ته جوته شوې چې کله د سولې د توافق خبره کېږي، بې له افغان حکومته بل څوک پرېکړه نه شي کولای.
دا په داسې حال کې ده چې طالبانو بیا بیا له افغان حکومت سره مخامخ خبرې رد کړې او ټینګار یې کړی چې یوازې د افرادو په توګه له حکومت سره خبرې کوي، نه د حکومت په توګه.

## سیمه ییز چارواکي: لاهم په پکتیا کې په پراخه کچه ناقانونه کیندنې کېږي

د پکتیا د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولینو ویلي چې په دغه ولایت کې ځینې کانونه په ناقانوني ډول کیندل کېږي. دوی د یادو کانونو د مشخصې سروې او نورو معلوماتو نشتون اساسي ستونزه بولي او وایي، سره له دې چې پانګوال د کانونو په برخه کې پانګونې ته لېوال دي، خو د اړوندو ادارو له خوا له دوی سره هېڅ مرسته نه ده شوې.
د یادې خونې مشر عبدالنصیر عالمیار ویلي، په زرمت، جاني خېل، سید کرم او احمدابا ولسوالیو کې ځینې معلوم کانونه شته، خو په ناقانوني ډول کیندل کېږي او مخنیوی یې نه کېږي. عالمیار ویلي، د کانونو د کیندل کېدو ځایونه د وسله والو طالبانو تر واک لاندې دي او د جاني خېلو ولسوالۍ دوه ځلي سقوط او د ځینو نورو جګړو عوامل هم اقتصادي دي. ده زیاته کړې: «همدا اوس کریستال، کرومایټ او مس په غیرقانوني ډول استخراجېږي، دولت باید د دې کانونو ظرفیت، کچه او ماهیت معلوم کړي او مشخصې سروې ګانې یې وکړي».



په ورته وخت کې ځینې پانګوال هم د پکتیا کانونو ته د اړوند وزارت له خوا پر نه پاملرنه نیوکه کوي او وایي، د یاد بنسټ له خوا تر اوسه د کانونو هېڅ قرارداد نه دی شوی او نه یې په اړه له دوی سره معلومات شریک شوي دي. له دې ډلې محمد خالد نوابزاده پژواک ته ویلي: «پکتیا ښه معدنونه لري، خو تر اوسه یې هېڅ سروې نه ده شوې او نه کوم سرمایه ګذار ته په دې برخه کې د سرمایه ګذارۍ زمینه برابره شوې ده».
همدارنګه د پکتیا ولایتي شورا هم دا مسئله جدي بولي او وایي چې د کانونو ناقانوني کیندنې له مخالفو وسله والو ډلو سره په مالي ملاتړ کې مرسته کوي.
په ورته وخت کې د پکتیا د کانونو او پټرولیم رییس فرهاد یوسفزي چې نوې یې دنده پیل کړې، پکتیا ته د اړوند وزارت نه پاملرنه خواشینوونکې بولي او وایي چې په دغه ولایت کې هم د ځینو نورو په څېر قېمتي او کم پیدا کېدونکي جواهر شته چې باید کار پرې وشي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦۰ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۲ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۲,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر نهمه |۴۷۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱۷ | ۱۹ | ۱۵ | ۲۱ | ۱۸ |
| ۲ | ۵ | ۹ | ۷ | ۸ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۸ | لمر ختل ۰۶:۴۷ | ماسپښين ۱۱:۴۶ | مازيگر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰۴:۴۳ | ماخوستن ۰۶:۱۳


## نړۍ



## راپورونه: د هند په پلازمېنه نوي ډيلي کې د سختې اورلګېدنې له کبله ۴۳ کسان وژل شوي دي

۳

## د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرگي لاوروف پر مهمو مسايلو د بحث لپاره امريکا ته ځي



د راپورونو له مخې، د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرگي لاوروف به د امريکا د بهرنيو چارو له وزير مايک پامپيو سره د ليدنې لپاره واشنگټن ته سفر وکړي.

واشنگټن پوسټ ورځپاڼې او د اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس د لوړ پوړو امريکايي چارواکو له قوله ويلي، چې لاوروف به سبا د سې شنبې په ورځ له پامپيو سره وگوري او گومان کېږي چې دواړه به په يوه گډه خبري غونډه کې هم خبرې وکړي.

د امريکايي چارواکو له قوله ويل شوي چې دواړه ډيپلوماټان به د اوکراين او سوريې د وسلو د کنټرول او نورو هغو مسايلو په اړه په خپلو کې خبرې وکړي، چې د امريکا او روسيې اړيکې يې ترينگلې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا او روسيې د بهرنيو چارو وزيرانو پامپيو او لاوروف تر دې وړاندې هم د تېر يو کال په اوږدو کې په خپلو کې څو ځلې ليدلي او همدارنگه يې ټيليفوني خبرې هم کړې دي.

لاوروف او په واشنگټن کې د روسيې پخواني سفير سرگي کيسلياک د ۲۰۱۷ ز کال په مې مياشت کې له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره په سپينه ماڼۍ کې هم ليدلي وو، خو هغه مهال پامپيو د امريکا د بهرنيو چارو د وزير په توگه کار نه کاوه.

د يادونې ده چې تر دې مهاله روښانه نه ده چې د روسيې د بهرنيو چارو وزير به دا ځل د امريکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره هم وگوري او که نه.

## شمالي کوريا: له امريکا سره په خبرو کې د اټومي وسلو د له منځه وړلو مسئله نه ده شامله

په ملگرو ملتونو کې د شمالي کوريا سفير کېم سونگ ويلي چې په کوريا ټاپووزمه کې د اټومي وسلو د له منځه تلو مسئله له امريکا سره په بحث کې نه ده شامله.

نوموړي دغه راز ويلي، هغه داسې خبرې چې واشنگټن يې غوښتنه لري چې محتوا او دوام ولري، يوازې د دې لپاره دي چې وخت وسپموي او د امريکا په کورنۍ سياسي اجنډا کې ريښې لري.

کېم ويلي: «موږ اوس نه غواړو چې له امريکا سره اوږدې خبرې وکړو او د غير اټومي کېدو مسئله د خبرو له مېزه لرې شوې ده».

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ واک ته له رسېدو سره سم، له شمالي کوريا سره ترينگلې اړيکې تر يوې کچې ښې کړې چې د هغه د بهرنې سياست يو پرمختگ بلل کېږي. هغه د دغو هڅو په جريان کې تر دې دمه درې ځله د شمالي کوريا له مشر کېم جونگ اون سره مخامخ خبرې کړې دي.



دغه راز ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ډسمبر په اوومه د جنوبي کوريا له ولسمشر مون جای اېن سره هم د کوريا د وضعيت په تړاو ټيليفوني خبرې کړې دي.

دواړو ولسمشرانو موافقه کړې چې له شمالي کوريا سره د خبرو لپاره به پر دغه هېواد فشارونه جاري ساتي.

## کمیسیون شکایات: تنش میان کمیسیون انتخابات و تیم های انتخاباتی نگران کننده است



کمیسیون شکایات انتخاباتی، از آغاز رایزنی ها با تیم های انتخاباتی خبر داده و می گوید که تلاش دارند از این طریق، تنش میان کمیسیون انتخابات و تکت های انتخاباتی را پایان بدهند.

کمیسیون انتخابات، برای جدا کردن آرای سفید از سیاه، از جمع ۲۶۵۸۰ محل رای دهی، در ۱۸ عقرب سال روان، روند بازشماری و تفتیش آرای ۸۲۵۵ محل را آغاز کرد؛ اما این پروسه با مخالفت برخی تیم های انتخاباتی رو به رو شد و حامیان نامزدان در هفت ولایت، مانع این روند شدند.

همچنان حدود ده روز قبل، تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی هشدار داد که اگر کمیسیون انتخابات در تصمیمش تجدید نظر نکند، موج جدیدی از اعتراضات را آغاز خواهند کرد که هم اکنون نیز در برخی ولایات، اعتراضات جریان دارد.


محمد قاسم الیاسی کمیشنر و سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی، از به وجود آمدن تنش میان کمیسیون انتخابات و تیم های انتخاباتی نگرانی نموده و اظهار امیدواری کرد که به زودترین فرصت این معضل حل شود.

وی در پاسخ به اینکه آیا قانون حق مداخله به خاطر حل چنین تنش ها را به کمیسیون شکایات انتخاباتی داده است یا خیر؟ افزود: «قانون در این مورد ساکت است؛ اما با توجه به اینکه نظارت نسبت به کارکرد هر دو کمیسیون و کارکردهای روند انتخابات، یکی از وظایف کمیسیون شکایات است؛ به همین دلیل در سدد این است که در قضایا مداخلهٔ مثبت کند».

در ماده ۲۸ قانون انتخابات که در خصوص ایجاد و ترکیب کمیسیون مرکزی می باشد، آمده است که به منظور رسیده گی به اعتراضات وشکایات ناشی از تخطی، تخلف و شناسایی جرایم انتخاباتی، کمیسیون مرکزی شکایات مطابق احکام این قانون ایجاد می گردد.

## ژوند


## تېر وخت ته په کوم نيت ور گرځېدل ښه دي؟




د تفکر ډېری مربيان او ښوونکي موږ ته دا سپارښتنه کوي چې په تېر کې ژوند ونه کړو. دوی وايي، په نن کې ژوند وکړئ؛ ځکه دوی په دې اند دي چې «ماضي د ارام کولو يو ځای و.»، خو له ځينو سره داسې پوښتنه مطرح کېږي: ايا په تېر کې کوم داسې څه نشته چې گټه ترې واخلو؟ ايا د ماضي له تجربو څخه بايد کوم څه زده نه کړو؟

د ماضي پر لور سفر، ستاسو په فکر او پرېکړې پورې اړه لري. که ستاسو مطلب ماضي ته له سفر کولو دا وي چې هغه خواشينوونکي پېښې او دردوونکي تجربې در په ياد کړی، چې د بدلون وس او توان يې نه لری، نو ستاسو دغه کار به ښې پايلې ونه لري. تاسو په دې کار سره يوازې خپل وخت ضايع کوی او له پرمختگ څخه وروسته پاتې کېږی. خو که مو ماضي ته له سفر کولو څخه موخه دا وي چې له پېښو څخه يې درس واخلی او د خوښيو ډکې شېبې يې در په زړه کړی، بيا نو دا يو منطقي کار دی، ځکه چې تاسو له خپل تېر وخت څخه د ځان په گټه کار اخلی. نو اړتيا نشته چې ماضي ته ور وگرځو، په داسې حال کې چې د بدو پېښو د تغير او بدلون وس يې هم نه لرو.

## ماشوم ته شيدې ورکول مور ته دا گټې لري



امريکايي څېړونکو له يوې تازه ډېرش کلنې څېړنې وروسته، ثابته کړې، هغه ميندې چې خپل ماشوم ته له شپږو مياشتو څخه ډېره موده خپلې شيدې ورکوي، له شکرې ناروغۍ ژغورل کېږي.

د څېړونکو په باور، هغه ميندې چې خپل ماشوم ته له شپږو مياشتو تر يوه کاله تې ورکوي، د هغو په پرتله چې خپل ماشوم ته شپږ مياشتې شيدې ورکوي او يا طبيعي خواړه ورکوي، د شکرې خطرات يې نږدې نيم په نيمه را کمېږي. په «جاما» طبي ژورنال کې خپره شوې څېړنه کاږي، طبيعي شيدې ورکول نه يوازې ماشومانو ته گټورې دي، بلکې د ميندو لپاره هم ډېرې روغتيايي گټې لري. امريکايي روغتياپالان وايي، دا څېړنه يې په ۱۲۳۸ هغو مېرمنو کړې چې عمرونه يې د ۱۸ او ۳۰ کلونو په منځ کې وو او په پايله کې ثابته شوه چې د طبيعي شيدو يا تې ورکولو موده او د شکرې ناروغۍ د خطر کمېدلو تر منځ قوي اړيکه شته. تر دې وړاندې يوې بلې څېړنې ثابته کړې وه چې ميندې کولای شي په طبيعي ډول ماشومانو ته په تي ورکولو، په بدني تمرينونو، د وزن په کمولو او د ژوند د بڼې په بدلولو سره په بدن کې د شکرې له ناروغۍ سره سره د سينو او رحم د سرطان مخه ونيسي.